د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

# د سُنَّت مطابق لباس اغوستل

د 14 مئ،



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

**(1):** په مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: **5** منټه **(2):** دُعا یادول: **5** منټه

**(3):** [د خپلو اعمالو] جائزه: **5** منټه، ټول وخت: **15 منټه**-

نن به د زده کولو او ښودلو په **حلقو** کښې په **72 نیک اعمال** کښې **د یو نیک عمل** د **سُنَّت مطابق د لباس اغوستو** په باره کښې ګټه ور معلومات درکولے شي او **د نوؤ جامو د اغوستو په وخت لوستلے کیدونکې دُعا** به یادولے شي- په اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي- اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم!

## د سُنَّت مطابق لباس اغوستل

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** چا چې په ما باندې سحر او ماښام 10، 10 کرته درودِ پاک ولوستو د هغهٔ به د قیامت په ورځ زما شفاعت نصیب کیږي- [1]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## نیک عمل نمبر 25

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د قِسما قِسم ناجائزه فیشن نه د نجات حاصلولو، د ګناهونو نه د بچ کیدو او د سُنَّتو مطابق د ژوند تیرولو د پاره د اِسلامي خوئیندو، د اِسلامي ورونړو او د طالبِ علمانو د پاره د سوالونو په شکل کښې د نیک اعمالو مختلفې رسالې جوړې کړې دي- نن به مونږ د 72 نیک اعمال رسالې نه د **نیک عمل نمبر: 25** په باره کښې زدکړه کوو-

**نیک عمل نمبر: 25** آیا نن تاسو د سُنَّت مطابق لباس جامې اغوستلے دے؟

---

[1] ... مجمع الزوائد، کتاب الاذکار، باب مایقول اذا اصبح واذا امسی، جلد:10، صفحه:120، حدیث:17022۔

# لباس څهٔ ته وئیلے شي؟

څهٔ چې واغوستے شي، مثلاً قمیص،پټکے، ټوپۍ، څادر وغیره دې ته لِباس وئیلے شي۔ (1)

**د سُنَّت مطابق لباس:** د سُنَّت مطابق لباس کښې دا څیزونه شامل دي: ❀ پټکے ❀قمیص ❀ تهبند ❀ پیزار۔ (2)

❀ **وضاحت:** عمامه(پټکے) شریف کم از کم دوه نیم ګزه او زیات نه زیاته 6 ګزه کیدل سُنَّت دي (3) او د دې نه لاندې سر بند تړل هم سُنَّت دي د قمیص د لَمَن اوږد والے د پنډۍ د نیمي پورې، د لستوڼو اوږد والے زیات نه زیات د ګوتو د سرونو پورې او پلن والے یو لویشت سُنَّت دے۔ (4) ❀ تهبند اچول سُنَّت دي۔ د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تهبند به د نوم د بره حصې نه واخله د ګیټو نه د بره حصې پورې وو۔ (5) پرتوګ یعنې لاندې جامه اګر که نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نهٔ دے اچولے،خو د اغوستونکو تعریف يې فرمائیلے دے او د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د دې اخستل هم ثابت دي۔ (6) ❀ پیزار اچول سُنَّت دي۔ پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: پیزار ډیر اِستعمالوئ ولې چې اِنسان تر څو پورې پیزار اچوي ګویا چې هغه په سولۍ سور وي یعنې کم ستړے کیږي۔ (7)

1…مرآۃالمناجیح، کتاب الباس، جلد:6، صفحه:91،ملخصًا۔

2…تفسیرنعیمی، پارہ:8، سورۂ اعراف، زیر آیت:26، جلد:8، صفحه:405۔

3…فتاوی رضویه، جلد:22، صفحه:186۔

4…بهار شریعت، جلد:3، صفحه:409۔

5…کشف الالتباس في استحباب اللباس مترجم، صفحه:23، جمعیت اشاعت اہلسنت کراچی۔

6…فتاوی رضویه جلد:22، صفحه:193۔

7…مسلم، کتاب اللباس، باب إستحباب لبس النعال…إلخ، صفحه:835، حدیث: 2096۔

# آیت مبارک

**الله** پاک فرمائيلي دي:

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِيْ سَوْاٰتِكُمْ وَرِيْشًا ؕ وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ۙ ذٰلِكَ خَيْرٌ ؕ ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۲۶﴾

(پارہ:8، سورۃالاعراف:26)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: اے د آدم اولاده! بے شکه مونږه ستاسو طرف ته يو لباس ځغه درکوز کړو کوم چې ستاسو د شرم ځيزونه پټوي او (يو لباس ځغه کوم چې) د ډول او ښائست دے، او د پرهيزګارئ لباس د ټولو نه بهتر دے- دا د الله د نخښو نه دي د پاره د دې چې هغوئي نصيحت حاصل کړي-

په دې آيت مبارک کښې بيان کړے شو چې **الله** پاک درې قِسمه لباس راعطا کړےدے- **(1)**: داسې لباس په کومو باندې چې ستر پټ کړے شي **(2):** داسې لباس کوم چې د ډول او ښائست د پاره واغوستے شي- مثلاً: صفا سوتره او د عزت والا جامې اغوستل **(3):** د تقوئ لباس يعنې د اِيمان او د نيک اعمالو لباس او دا لباس د ټولو نه افضل دے-[(1)]

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

سپينې جامې اغوندئ! ځکه چې دا ډيرې صفا او پاکې دي او خپلو مړو له هم په دې کښې کفن ورکوئ-[(2)]

## د لباس په باره کښې حُکمونه

**(1)**: دومره جامې اغوستل چې ستر (د نارينه د پاره د نوم نه د زنګونانو پورې) پټ

1...تفسير نعيمی، پارہ:8، سورۂ اعراف، تحت الآيت:26، جلد:8، صفحه:405و 408 ملتقطًا-

2...سنن ترمذی، کتاب الادب، باب ماجاء فی لبس البياض، صفحه:370، حديث:2819-

کېږې شي او د يخنۍ او د ګرمۍ د تکليف نه بچ کړې شي فرض دي- [1] لهذا داسې جانګې [نيکر] وغيره اچول چې زنګونان يا پتونان [يعني ورنان] وغيره پکښې ښکاره وي لکه څنګه چې نن سبا ځينې خلق اچوي دا حرام دي- **(2):** د **الله** پاک د نعمت د ښودلو د پاره ښې او د عزت والا جامې اغوستل مستحب دي- [2] **(3):** د تکبر په توګه چې کومې جامې واغوستې شي هغه منع دي- [3] **(4):** اسبال (يعنې کپړه زوړندول) مثلاً ❁ د قميص لمَن يا اِزَار (مثلاً: تهبند، پرتوګ، پاجامه يا پينټ وغيره) پينځې د ګِيټو نه لاندې زوړندول ❁ د عمامې شمله دومره اوږده ساتل چې په کيناستو کښې لاندې راځي ❁ لستونې د ګوتو نه لاندې زوړندول وغيره دا ټول منع دي، [4] که د تکبر په نيت سره وي نو حرام دي- [5]

## د سُنَّت مطابق د جامو اغوستو فائدې

❁ **د سُنَّت مطابق جامې اغوستل** ستر په مکمله توګه پټوي ❁ **د سُنَّت مطابق په جامو اغوستو** کښې سادګي ده ❁ په حديثِ پاک کښې دي: سادګي د اِيمان نه ده- ❁ د يو حديثِ پاک مطابق: څوک چې د قدرت باوجود ساده جامې واغوندي **الله** پاک به هغۀ ته د عزت او د کرامت جامې ور واغوندي ❁ **د سُنَّت مطابق په جامو اغوستو کښې** صفائي سوترائي او عزت دے ❁ **د سُنَّت مطابق د جامو اغوستو** سره د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د محبت اِظهار کيږي ❁ **د سُنَّت مطابق د جامو اغوستو** سره اِنسان د ډيرو ګناهونو نه بچ کيږي، مثلاً اِسبال (د ګِيټو لاندې کپړه زوړندول)، بے پردګي او غير شرعي وضع قطع

---

1 ...بهارِشريعت، جلد:3، صفحه:409-

2 ...بهارِشريعت، جلد:3، صفحه:409-

3 ...بهارِشريعت، جلد:3، صفحه:409-

4 ...بهار شريعت، جلد:1، صفحه:632، حصه:3-

5 ...فتاوٰی رضويه، جلد:22، صفحه:164-

وغيره- ❁ **د سُنَّت مطابق د جامو اغوستو** سره اِسلامي شناخت ښکاره وي-

## د سُنَّت مطابق د جامو اغوستو د عادت جوړولو طريقې

❁ فيشن پرستي پريږدئ او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ښکلو ښکلو سُنَّتو سره رشته جوړه کړئ ❁ په زړۀ کښې د اخري نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عشق زيات کړئ ❁ د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم او د دِين د بزرګانو رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہِم سيرت لولئ خاص طور د هغوئي په سُنَّت باندې د عمل کولو واقعات لولئ-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** نن مونږ د نيک عمل نمبر: 25 مطابق د **سُنَّت مطابق د لباس اغوستو** په موضوع باندې ګڼه ور معلومات حاصل کړل، نيت اوکړئ چې آئنده به د سُنَّت مطابق لباس اغوندو- اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیْم!

**الله** پاک دې د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

## د ښودلو او زده کولو په حلقو کښې يادولو والا دُعا

## د نوؤ جامو د اغوستو په وخت لوستلے کيدونکې دُعا

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ الَّذِیْ کَسَانِیْ مَاۤ اُوَارِیْ بِہٖ عَوْرَتِیْ وَاَتَجَمَّلُ بِہٖ فِیْ حَیَاتِیْ

**ترجمه:** د **الله** پاک شُکر دے چاچې ما ته هغه کپړې واغوستې په کومو چې زۀ خپل ستر پټووم او په ژوند کښې د دې نه ښائست حاصلووم- [1]

---

[1] ...سنن ترمذی، صفحہ:327،حدیث 3571۔

# د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

## د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نـمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نـمونځ نه مخکښې مو د نـمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نـمونځ نه پس مو آيَةُ الکرسی، تسبيحِ فاطمه، سُوْرَةُ الِاِخلاص لوستلے؟ (6): آيا د کنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلې يا اوريدلې؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلې؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلې؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آيا د فضول نظر نه پۀ بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکـتبة الـمدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آيا پۀ تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې کړې؟ (18): آيا پۀ مکـتبة الـمدينه بالغان کښې مو لوستلي، يا مو ښودلي؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پۀ دوو ګينټو کښې کور ته رسيدلي يئ؟ (20) : آيا دوه ګينټې مو پۀ ديني کارونو باندې لګولې؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاځول کړي؟ (22): آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا پۀ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو پۀ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه کولو پۀ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آيا

مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آیا څهٔ نا څهٔ مو پهٔ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آیا د ماسپښین سنتِ قبلیه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړې؟ (33): آیا تهجد یا صلوٰةُ اللیل مو ادا کړې؟ (34): آیا د اَوَّابِیْن یا اِشْرَاق او څاخت نـمونځ مو کړے؟ (35):آیا د مازدیګر یا د ماسخوتن سُنتِ قبلیه مو ادا کړې؟ (36): آیا پهٔ 12 دیني کارونو کښې مو د یو دیني کار ترغیب ورکړے؟ (37) : آیا د نورو نه غوښتلے شوي څیزونه خو مو اِستعمال کړي نهٔ دي؟ (38): آیا د دروغو، غیبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آیا د څهٔ وخت د پاره مو مَدَني چینل کتلے؟ (40): آیا ذاتي دوستي خو مو نهٔ ده کړې؟ (41): آیا پهٔ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آیا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نهٔ دي وئیلي کوم چې زړهٔ نهٔ دي منلي؟ (43): آیا د صفایۍ او سلیقې خیال مو ساتلے؟ (44): آیا د مسلمانانو د عیبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آیا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسیر اوریدو /بیانولو پهٔ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آیا د څهٔ نا څهٔ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ اللہ وئیلې؟ (47): آیا چوک درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (48): آیا مور پلار او پیر او مرشد ته مو ایصالِ ثواب کړے؟ (49): آیا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آیا د ټریفک د قوانینو پابندي مو کړې؟ (51): آیا د تنظیمي طریقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52):آیا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آیا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آیا د ټوقو ټقالو، خندا، زړهٔ ازارولو او پهٔ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آیا عمامه شریف مو پهٔ سر کړې؟ (56): آیا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدینه کارکردګي

❀ پهٔ لیکلو خبرې کول 12 کرته ❀ پهٔ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ❀ پهٔ

سترګو کښې د سترګو اچولو بغیر خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نیک اعمال

(57): آیا د اِسلامي خوئیندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د کور نه لیږلې؟ (58): آیا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې یا اوریدلې؟ (59): آیا پهٔ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آیا یومِ تعطیل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آیا د مریض یا غم زپلي تپوس یا غم خورې او د چا پهٔ وفات کیدو مو تعزیت [لاس نیوه] کړې؟ (62): آیا پهٔ هفته کښې مو پهٔ یوه ورځ کښې روژه نیولې؟ (63): آیا هفته واره رساله مو لوستلې یا اوریدلې؟ (64): آیا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آیا مخکښې راتلونکې او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د دیني ماحول سره تړون پیدا کړو؟